ورځپانه
شریعت
SHARIAT DAILY
دافغانستان د اسلامی امارت مرکزی نشراتی ارگان
وشپږم کال٥٦مه گڼه پرله پسی (٤٣٥)چهارشنبه د١٤٢٢هـ ق جمادی الاول (١١)
د١٣٨٠هـ ش کال د اسد (١٠) د٢٠٠١ میلادی کال د اگست(١)

خبرنگار جرمنی: قوماندانان جبهه متحد در قاچاق مواد مخدر سهم دارند

این قاچاق توسط هلیکوپترهای نظامی تاجکستان صورت میگیرد

سهار:
مشکل قاچاق مواد مخدر از افغانستان به خارج طی کنفرانس مطبوعاتی در واشنگتن بررسی شد.
یک خبرنگار جرمنی که اخیراً از سرحدات افغان، تاجک دیدار کرده به سایر خبرنگاران گفت که بعضی مقامات تاجکی با قاچاقبران دست دارند.
وی افزود که قوماندانان جبهه متحد قاچاقبران اصلی مواد مخدر از افغانستان اند که این قاچاق توسط هلیکوپترهای نظامی تاجکستان صورت میگیرد یک مقام امریکایی در امور مواد مخدر گفت که باید با تاجکستان در زمینه کمک شود تا جلو این خود سری ها را در کشورش بگیرد اما خبرنگار گفته است که مشکل است موضوع تحت کنترول درآمده شود زیرا در این قاچاق قوماندانان ارشد جبهه متحد و مسوولین دولتی تاجکستان سهم مستقیم دارند.

الهی فرمان

ترجمه: ای هغو کسانوچی ایمان یی راوړی که بو فاسق څه خبر درته راوړی نو پلټنه کوئ هسی نه چی کوم قوم ته په ناپوهی سره څه تکلیف ورسوئ او بیا په خپلو کړو پښیمانه شئ (الحجرات - ٦)

دهوخست سهامی شرکت مسوول:

دبندیزونو له کبله دهوخست شرکت له سقوط سره مخامخ شوی دی

په سلوکی لس مسلکی غړی او (٢٩) کلنه پانگه مو له لاسه ورکړی ده

دهیواد نوری صنعتی پروژی سختی زیانمنی شوی دی

کابل:
دهوخست سهامی شرکت دهیواد دنورو تولیدی پروژو او فابریکو او دټولگیو تاسیساتو په شان دملگرو ملتو دسازمان دامنیت شورا دبندیزونو په نتیجه په اومو موادو باندی ته لاس بری له امله په پیړه توگه زیانمن شوی دی او دسقوط احتمال یی شته.
دغه ټکی د هوخست دسهامی شرکت دفابریکی امر محترم سید
٤مخ

دارووند وستونزو په هکله دکرنی وزارت مسؤلینو غونډه وکړه

کابل:
دریاست الوزرأ داقتصادی مرستیال محترم مولوی عبدالکبیر پرون د کرنی او مالداری وزارت دچارو اکو په هغی غونډه کی برخه واخیسته چی دد غه وزارت په مقر کی وشوه.
دباختر اطلاعاتی آژانس خبر راکړ.
دغو نډی په بهیر کی دکرنی د
٤ مخ

دپلخمری دمهاجرو کمپ لپاره

پنځوس کوټیان جوړیږی

پلخمری:
دپلخمری دخواجه الوان ددښتی په ساحه کی د کمپ اوسیدونکوته دځنباک د روغتیایی اوبو دبرابرولو په مقصد پرون په دی سیمی کی د پنځوس څاگانو د کیندولو کار پیل شو.
دباختر اطلاعاتی آژانس خبر راکړ.
دغه څاگانی دپلخمری دخواجه الوان ددښتی په ساحه کی دمهاجرینو په کمپ کی دپنځه زره میشتو کورنیو دستونزو او مشکلاتو د لری کولو په
٤مخ

په سمنگانو کی جګړه ماره ډله وځپل شوه

سمنگان:
دسمنگانو ولایت دخرم او سارباغ ولسوالی په مربوطاتو کی ددښمن شپږ ویشت تنه افراد ووژل شول او څلور تنه نوری د سمنگانو ولایت دنولسمی فرقی دمجاهدینو له خوا تیول شوی دی.
دباختر اطلاعاتی آژانس خبر راکړ.
٤مخ

١٢٦٣٧ تن مریض از طریق کلینیک های هلال احمر زون شمالغرب تداوی شده است

طی ربع اول سال شش کورس کمک های اولیه ایجاد گردیده است

هرات - شریعت:
ریاست هلال احمر افغانی در زون شمالغرب طی ربع اول سال برای ٧٤٩١ فامیل بی بضاعت موادخوراکی راکه ازطریق موسسات خیریه خارجی واشخاص انفرادی جمع آوری شده بود در سطح زون توزیع نموده است این مطلب را الحاج
ص٤

بررسی کارهای ادارات امارت اسلامی نتایج سودمندی را به بار آورد

کابل - شریعت:
بخاطر بررسی تاثیرات آن تلاش های که امارت اسلامی بخاطر بهبود زنده گی مردم نموده هیاتی از طرف ریاست عمومی کاروامور اجتماعی به ریاست محترم ملا عبدالولی «مجاهد» معاون ریاست عمومی کاروامور اجتماعی به ولایات
ص ٤

په ننگرهار کی یو رشوت ورکوونکی ونیول شو

ننگرهار:
یوتن بډی ورکوونکی او غاصب چی غوښتل یی د پیسو په ورکولو سره د ننگرهار ولایت دلومړی لمبر قول اردو دامارتی ملکیت باندی په غیر قانونی ډول خپله واچوی لاس په ونیول شو.
دلومړی لمبر قول اردو مرستیال محترم ملا آغاجان په دی برخه کی دباختر داطلاعاتی
٤مخ

عکس: دننگرهار ولایت دنظامی محکمی یوه څنډه

دمیدان وردگ اړو کورنیوته ددوی کارتونه ورکړی شول

میدان وردگ
دمیدان وردگو ولایت په مرکز پوری مربوط په څلور سوه څلور نوی مستحقو کورنیو باندی دد ډی کارتونه ویشل شوی دی.
دباختر اطلاعاتی آژانس خبر راکړ.
دهغی سروی له مخی چی دمیدان
٤مخ

خیریه موسسوته دسرپل دمهاجرینو ستونزی بیان کړی شوی

سرپل:
دسرپل ولایت مرستیال ددغه ولایت دمهاجرینو په کمپ کی دمیشتو کسانو دمشکلاتو په باب دنړیوالو خیریه موسسو له مسوولینو او استازو سره خبری وکړی.
له سرپل څخه دباختر اطلاعاتی
٤مخ

دالرشید ترست موسسی مسئول محترم عبدالهادی ملا خیل:

الرشید ترست په پام کی لری چی کابل ښاریانوته په پراخه پیمانه وچه ډوډی په تیته بیه وړاندی کړی

موږ پریکړه کړی چی د کابل تر څنگ دهیواد نورو لویو او مهمو ښارونو کی هم د نانوایانو پروژی فعالی کړو

په داسی حساسو او نازکو شیبو کی دهر مسلمان ایمانی او وجدانی دنده ده چی دخپلو مسلمانو وروڼو مرستی ته ورودانگی

عکس: دمرکزی سیلو سره دغنمو کتارچی دالرشید دموسسی لخوا کابل ته وارد شوی دی. ډیوسف عکاسی

کابل - شریعت
قدرمنو لوستونکو! «الرشید ترست موسسه» دنورو کورنیو او بهرنیو موسسو په کتار کی هغه موسسه ده چی له ټولو ته په بدو او سختو اقتصادی شرایطو کی یی د کابل د زرو ښاریانو او دهیواد په گوټ گوټ کی زموږ هیوادوالو ته دمرستی لاس ور اوږد کړی او دچارو اکو د ورو ساحه یی دهری ورځی په تیریدو سره پراخیږی.
٢مخ

داکتر شمس الرحمن رسول زی زموږ دخبریال حصارشاهیوال سره په خبرو کی:

درسول زی تعلیمی ټولنه کی ٢٥٠ تنه طالب العلمان په زده کړه بوخت دی

جلال آباد - شریعت
درسول زی تعلیمی ټولنی له څه مودی راهیسی دجلال آباد ښار په دوهمه ناحیه کی په کار پیل کړی دی.
دغه ټولنه دهیواد دیو شمیر با احساسو او فرهنگ پالو پښتیانو له خوا جوړه شوی ده دغه ټکی دننگرهار په ولایت کی درسول زی دتعلیمی او
٣مخ

دشعراو ادب اداری خبر تیا

داطلاعاتو او کلتور وزارت دکلتورا وهنر ریاست دشعراو ادب اداره په پام کی لری چی دروان هجری قمری کال دجمادی الاول دمیاشتی په ټولسمه نیټه چی ١٣٨٠ هجری لمریز کال د زمری یا اسد دمیاشتی له لسمی نیټی سره سمون خوری دڅلورشنبی دورځی له غرمی وروسته په دوو بجو دلوستل شویو شعرونو په باب دمطبعی
٤ مخ

سرمقاله

دلوی او بښونکی خدای «ج» په نامه

«امنیت شوریٰ» له ملگرو ملتو سره په څرگنده مواجهه کی!

په اصولی ډول خو «امنیت شوریٰ» دنړیوالی ټولنی په لوی تشکیل کی یوه وړوکی اداره ده چی ټول ښځلس غړی لری خو داچی دنړی پنځه څواکمن هیوادونه یی دایمی غړی دی نو ښکاره ده چی نور لس نوبتی غړی به هم دهغوی تر اغیز لاندی وی او په همدی توگه بیا په پنځوکی چی هر یو یې زورور وی دډی ادعا یو دلیل دادی چی دملگرو ملتونه په عمومی ټولنه کی خو دنړی له ډیروکمو وروهیوادو پرته نور ټول غړیتوب لری نو څکه یې دکوم څانگړی هیواد له لوری اخیستل او یا دځان ملگری کول چندان آسانه نه دی خو بر عکس «امنیت شوریٰ» ډیره وړه او په اصل کی
٢ مخ

عراق طیاره جاسوسی امریکا رامورد هدف قرار داد

منابع خبری بین المللی - شریعت:
به گفته منابع خبری امریکا، عراق یک طیاره قوای مسلح امریکا را درعربستان سعودی مورد حمله راکتی قرار داده است.
شبکه تلویزیونی سی .بی .اس گزارش داد که عمله طیاره جاسوسی
٤ مخ

عساکر صهیونستی باز هم حملات وحشیانه یی را انجام دادند

منابع خبری بین المللی - شریعت:
صهیونستان محاصره شهر های مختلف فلسطینی را تشدید کرده اند به گفته منابع رژیم صهیونستی قوای مسلح آن رژیم محاصره خود را در شهر های رام الله، بیت الحم،
ص٤

اوضاع در روسیه کنترول نمی شود

منابع خبری بین المللی - شریعت
طبق گزارش را دیوی بی بی سی افراد مسلح ناشناس دیروز یك عراده موتر مسافر بری را درجنوب روسیه ربوده و چهل تن از راکبین واسطه را به گروگان گرفته اند.
این موتر در نزدیکی شهرك نیو منسك روسیه ربوده شده بود.
ص٤

مجاهدین چچین حملات خویش را بالای روسها از سر میگیرند

ازتمام چچینائیان تقاضا شده دراین حمله شرکت کنند

گروژنی:
مجاهدین چچین برای یک حمله جدید بر قوای اشغالگر روس اماده گی میگیرند. انها از تمام مردم تقاضا کردند که در این حمله سهم بگیرند.
عبدالوحید یکتن از قوماندانان مجاهدین به ژورنالستان گفت که مجاهدین برای یک حمله وسیع اماده گی لازم را گرفته و در آینده نزدیک این عملیات را انجام خواهند داد.

شریعت

دتأسیس کال : ۱۳۷٤ هـ ش
: د لیکوال هیئت ترنظر لاندې
مسؤول مدیر : الحاج ملا اسدالله «حنیفی»
مرستیال : غلام محمد فاروق
دیوې ګڼې بیه : په هیواد کې (۱۰۰۰) افغانۍ په پاکستان کې (۳) کلداری
ټیلفون : ۲۱۳۸۱ توزیع او شکایات :۶۲۸۵۹
پست بکس : (٤۷۱) کابل افغانستان
جاري حساب : $\frac{٤٠٣٨٥}{٧}$ د افغانستان بانك مرکز
چاپ : امارتي مطبعه

به مناسبت هفته جهانی تغذی با شیر مادر

بهتراز شیر مادر برای نوزادخوراکی نیست «حدیث‌شریف»

موضوع شیر به تمام معنی واجد اهمیت است و هم از نظر صحی واخلاقی مورد توجه قرار دارد بناً به گفته پیامبر بزرگوار اسلام بهترین و مناسب ترین خوراکی که خداوند (ج) برای نوزاد انسان و پاره یی از حیوانات که در پستان تهیه کرده همانا شیر مادر است .

شیر هر حیوان متناسب به دستگاه هاضمه همان حیوان است و برای جلوگیری از مرگ و میر کودکان و تأمین سلامتی آنها هر مادری مؤظف است که در چند ماه اول زنده گی کودك را به وسیله تغذیه طبیعی یا شیرپستان خود پرورش دهد .

بلی شیرېکه ازپستان پر مهر مادر تر اوش میکند ، غذای گوارا است و از هر جهت مناسب است که آفریده گار جهان برای نوزادان در دوران شیر خواره گی مقرر داشته و آنرا با مواد و عناصر مختلف و ویتامینهای لازم با اجزای مناسب و به اندازه های معینی آمیخته است که کاملاً با مزاج طفل وفق داشته و با از دیاد سن کودك تغیرات لازمه

در موارد شیر داده میشود .

رسول خدا (ج) فرموده : «خداوند (ج) روزی طفل را در دوپستان مادر مقرر داشته » کودك را باید از هردو پستان شیر داد و مادرانی که تنها از یك پستان به کودك خود شیر میدهند به اولاد خود ظلم کرده اند .

مادری که سالم است و مزاجش معتدل پس پستانش به قدر کافی شیر دارد باید کودك عزیز خویش را از هردو پستان شیر دهد .

دانشمندان طب به اثبات رسانیده اند که شیر مادر برای طفل ارزش واکسین را دارد یعنی طفلی که از پستان مادر تغذیه میشود دارای صحت کامل و مقاومت به مقابل تمام امراض را پیدا میکند .

همچنان تغذی اطفال به شیر مادر صحت مادر و طفل را تضمین میکند زیرا تغذی فوری کودك از شیر مادر باعث تقلص رحم مادر بعد از ولادت میگردد یعنی پلاستتا از وجود مادر زود تر خارج گردیده وخونریزی بعد او ولادت کم میگردد بناً گفته میتوانیم همانگونه که شیر مادر برای کودك غذا است برای مادر هم دوا است .

ع . ا

د سرمقالې پاتې برخه

دپنځو هیوادونو دګټوساتونکې اداره ده چې دوی بیا همېشه یو دبل په مقابل کې د «څه واخله څه راکه » سیاست چلوي نو په همدې اساس ویلای شوچې په حقیقت کې «امنیت شوری » پنځلس نه ، بلکې صرف پنځه غړي لري چې هغه هم په بشپړدول دملګرو ملتوله کنټروله خارج او بېخې بې ځان ته ډنګوي ، دمثال په توګه څوورځې مخکې دملګرو ملتوسرمنشي ښاغلي کوفي انان په افغانستان کې دبندیزونو داغېزوتر هراړخیزې څېړنې وروسته په خپله څرګنده کړه چې دهغوی دسروې په اساس د «امنیت شوری »بندیزونو دعامو افغانانو په ژوند ډېره منفي اغېزه کړېده خو «امنیت شوری » یې سمدلاسه په غبرګون کې دبندیزونو دلاسختو لواوڅارلو په هکله تدابیرپیل او وویل کیږي چې ګاونډیو هیوادو ته به دڅارنې یو پنځلس کسیز هیأت راولیږل شي .

همدارنګه دنړې په ګوټ ګوټ کې د «امنیت شورۍ » داډول استعماري چلندچې ډېر ولسونه یې دهمدغوناروابند یزونو په لوموترلې او د «ناټو » دنظامي تړون په زور ددوی په اصطلاح ناړامه هیوادونه ایل کول غواړي ، داحقیقت څرګندوي چې «امینت شوری » په اصل کې هماغه دلرغوني استعمار یو راپاتې شکل دی چې د (۲۱) پېړۍ دآزادۍ او دیموکراسۍ مهال انسانان یې هم بیرته دمړیتوب او شخصي استبداد په ځنځیر ونو تړلي دي – له بلې خوا داهم یو څرګندواقعیت دی چې د «امنیت شوری » په پنځودایمي اودویتو خاوندانو کې یو اسلامي هیواد هم نشته تر څود څه دپاسه یو ملیارد مسلمانانواستازیتوب وکړي نو په دې اساس په کارده چې دنړۍ خپلواکې غوښتونکي او خصوصاً اسلامي هیوادونه له دغې په اصطلاح «امنیت شوری » سره خپل حساب تصفیه او دخپل برخلیک ټاکلو په خاطر سمه اصولي مبارزه پیل کړي همداشان دملګروملتوسره منشي چې دافغانستان اوځینو نورو بندیزوهلو ملکونو په هکله یې ریوټ ته د «امنیت شوری » له خوا ډیرکم ارزښت هم ورنکړې شو په کار دی چې یا خو په څرګنده ترېوالوته خپله ګیله ورسوي ترڅو د «امینت شوری » اصلي ماهیت ټولو ته ښه څرګندا و هرڅوک خپل غم وخوري اویا له دغې وظیفې چې دځواکمنو هیوادو ترمحکومیت لاندې شپې تیروي ،لاس په سر او ځان له راتلونکې مسوولیت څخه وژغوري .

الرشید ترست په پام کې لري چې . . .

زمونږ خبریال له وخت نه په استفادې سره ددغې موسسې له چارواکې محترم عبدالهادي ملاخیل سره ددوی دتر لاس لاندې پلانونو او راتلونکو پروګرامونو په باب مرکه کړې چې دادې ستاسې دمطالعې لپاره یې خپروو .

په پیل کې دالرشید ترست موسسې مسئول محترم عبدالهادي ملاخیل داسې ووېل :

دعلماء کرامو مرستندویه ټولنه (الرشید ترست) په نظر کې لري چې دکابل ښار غریبو او بېوزلو خلکو ته په پراخه پیمانه وچه ډوډۍ په ټیټه بیه عرضه کړي په همدې مقصد مو په کافي اندازه اوړه او غنم مخکې هم راوارد کړي ؤ او اوس هم دګاونډي هیواد پاکستان نه دغنمو دراواردولو بهیر دوام لري . مونږ پرېکړه کړې چې دکابل تر څنګ دهیواد په نورو ښارونو لکه کندهار، ننګرهار، مزار ، هرات ، غزني ، ګردېز او داسې نورو مهمو ولایتونو کې هم دنانوایانو پروژې فعالې کړو څکه چې له یوې خوا دهیواد اکثره برخې سختې وچکالۍ ځپلې دي او له بلې خوا افغانان دملګرو ملتونو دبندیزونو او فشارونو یابلې ژغمې پداسې حساسو او نازکو حالاتو کې دهر مسلمان ایماني او وجداني مسئولیت داده چې دخپلو مسلمانو ورونو مرستې ته ورودانګي موږ دخپلې ایماني فریضې دپرځای کولو په خاطر دغه اقدام کړی او امید واره یو چې پر بری سره به دغه پروژه پر مخ بوځو .

ده زیاته کړه : مونږ په تیرو دوه اوونیو کې نږدې دوه نیم زره ټنه غنم راوارد کړي دي دغه لړۍ روانه ده مونږ هڅه کوو چې دضرورت په اندازه غنم راوارد کړو دیادولو وړده چې دپاکستان هیواد الرشید ترست موسسې ته دغنمو اوړو او نورو غذائي موادو تر څنګ دطبي الیسوي او مرستندویه شیانو دواردولو اجازه ورکړې دمونږ داسلامي ګاونډي هیواد ددغه اقدام ستاینه کوو او دجنګ ځپلو افغانانو لپاره ئې ښه زیری بولو .

محترم ملاخیل زیاته کړه :

داسلامي امارت له خوا د الرشید ترست اداري دغنمو او اوړو دخوندي ساتلو لپاره ګودامونه په اختیار کې ورکړل شوي دي او ستې غنم هم په هماغو ګودامونو کې ځای پرځای شوي دي .

دې زیاتوي کله چې ملګرو ملتونو ګواښ وکړ چې دجون په پنځلسم به خپل نانوایان تړي له هماغې ورځې نه مونږ دسروې کار پیل کړ . اوس هم زمونږ دسروې ټیمونه دامارت دډېرخله ادارو داستازو په ګډون دسروې جریان پر مخ بیاني او په کومو ناحیو کې چې دسروې کار بشپړ شوې هلته مستحقینو ته ډوډۍ کارتونه توزیع شوي او هره ورځ ورته ډوډۍ ورکول کیږي ، زه وېلای شم چې همدا اوس دکابل په ۱ ، ٤ ، ۹ ، ۱۰ ناحیو کې زمونږ نانوایان فعال او هره ورځ په زرګونو کورنیو ته ډوډۍ توزیع کوي . زمونږ دسروې کار په شدت سره ادامه لري هیله لرو چې ډېر ژر به دکابل په لرا او بر کې زمونږ نانوایان فعال شي . دغه راز دیادولو وړده چې په کندهار کې هره ورځ دري زره کورنیو ته دلسو نانوایانو له لارې ډوډۍ ورکول کیږي . په میدان ښار کې هم عملاً زمونږ کار پیل شوی په نورو ولایتونو کې هم دسروې کار پیل او ارونډي مقدماتي چارې تر سره شوې دي .

په پای کې دالرشید ترست دموسسې مسئول محترم ملا عبدالهادي ملاخیل زیاته کړه

دنانوایانو پروژه دنورو بیلا بیلو پروژو تر څنګ زمونږ یوه پروژه ده مونږ دهیواد په مرکز او ولایتونو کې په تعلیمي ،تربیوي ،طبي ،تخنیکي ، علمي ، حرفوي ، مسلکي ، تعمیراتي او زراعتي برخو کې دتیروڅو کالو راهیسې خورا په زړه پورې او ګټورې لاس ته راوړنې لرو مونږ په اکثرو مهمو ولایتونو کې روغتیائي کلنیکونه ، دکمپیوټر تربیوي مرکزونه ، دیني مدارس او دحرفوي زده کړو کورسونه لرودلوېولاړو په اوږدو کې مودنارینه او ښځینه مسافرو لپاره دجوماتونو دجوړولو پراخه کمپاین پیل کړی دی تر اوسه پورې مو دکابل ،قندهار ،طورخم کابل او بولدک –قندهار ترمنځ تقریباً څوارلس جوماتونه جوړ کړي چې هره ورځ په زرګونو نارینه او ښځینه مسافر پکې لمونځونه کوي ، همداراز دزلزله ځپلو ،وچکالۍ ځپلو او نورو مصیبت ځپلو خلکو سره مو دصلیبونو کالدارو معادل مرستې کړې دي ، یوازې تیر کال مو دپنځو سوو صلیبونو کالدارو په بیه لوی او واړه څاروي دلوی اختر په مبارکو شپو ورځو کې ذبح کړل او غوښې مو په بېوزلو نادارو ، مهاجرینو کونډو او یتیمانو باندې ووېشلې . لنډه دا چې مونږ په هره برخه کې دمظلومو افغانانو سره مرستې کړې او انشا الله چې کوو به یې ، ماسخکې هم وویل چې له افغانانو سره مرستې کول دهر با احساسه او دردمن مسلمان ایماني دنده ده افغانانو د الله (ج) په مرسته دنړۍ ستر ځواک په ګونډو کړی او دټولې اسلامي نړۍ سترګې یې دنیا ته لوړې کړې دي .

مونږ په پای کې دټولو اسلامي هیوادونو او مرستندویه اسلامي ادارو څخه هیله او تقاضا لرو چې دخپلو افغاني مسلمانو ورونو سره په پراخه پیمانه مرستې وکړې څو خپل اسلامي مسئولیت ادا ، او افغانانو ته د دغه بد او دردونکي حالت څخه نجات ورکړي .

مصاحبه کننده ذبیح الله عزیزی

مشــروع نــظـام !!!

ملا عبدالرحیم «ثاقب»

په دې نږدې ورو ستیو کې په پېښور کې د افغان پوهنتون دشورې غړي ښاغلي اسحاق ګیلاني له (B.B.C) پښتو خپروني سره په مرکه کې څرګنده کړه چې په افغانستان باندې دملګرو ملتونو لخوا نافذ شویو بندیزونو ددې هیواد پر اوسیدونکو هیڅ اغیزه نه ده کړې ښاغلي ګیلاني صاحب دبندیزونو نه اغیزمنتوب دهغوی په عملي توګه نه پلې کول وښود او ده ښاغلي دملګرو ملتونو له سازمان څخه په دې خبره سرو ټکاوه چې دافغانستان په هکله ئې ټول پروګرامونه همداسې په غیر عملي توګه نیمګړې تر سره کیږي . که څه هم چې دبندیزونو دناوړو اغیزو په هکله خپله دملګرو ملتونو سر منشي اعتراف کړی او همدارنګه دهغوی له امله دهیواد په ګوټ ګوټ کې هره ورځ په لسګونو تنه معصوم انسانان دمرګ تر کومې تیریږي خو ښاغلي ګیلاني صاحب پر دې ټولو غوږ کوڼ اچوي او بواخې دې ته یې پښې خرلي دي چې دا ټول د وچکالۍ له لاسه دي ، نه دبندیزونو .

مور د لته دجناب ګیلاني صیب پر روښانه منطق او علمي استدلال باندې قضاوت کول درنو لوستونکو ته پرېږدو او لس وراندې ده ده د مرکې په څو نورو ټورو باندې رڼا اچوو ښاغلي ګیلاني صیب په ښه شد و مد سره دا خبره هم وکړه چې دافغانستان دلانجې اصلي عامل په دې هیواد کې د یوه مشروع نظام نشتوالی دی .

جناب ګیلاني صیب د خپلې مرکې په ترڅ کې څه نورې منرغلرې هم وشیندلې او تیر یوویشت کلن جریان ته چې په هغه کې دمقدس جهاد ١٤ کلنه دوره هم راځي ټول دمکتبونو ، پلونو او روغتونونو ړنګولو ته منسوب کړل او بس دمشروع نظام خبره دجناب ګیلاني صیب په شمول د ډېرو نورو ښاغلیو په خولو کې هم اورې را اوري او هر یو ترې بیل ، بیل تعبیرونه کوي نه پوهیږو چې دښاغلي ګیلاني صاحب په ترې کوم تعبیر مراد وي هغه دپښتو ضرب المثل له مخې چې له لوېې هغه تونېږي چې څه پکې وي ، له قرائینو او علائمو څخه خو داسې جوتیږي چې دجناب ګیلاني صیب په تعبیر به مشروع نظام هغه نه ویل کیږي چې په مذهبي توب او دیني والي پورې چندان سر ونګرځول شي ، اسلامي او افغاني درانه روایات که ترپښو لاندې شي هم پروا به یې نه وي خو اصلي ټکې به یکې داوي چې دمعاصري غربي نړۍ په دیموکراتیکو اصولو لاندې به په بشپړه توګه محتوي وي ، ناز و نوش به یکې بې تکلیفه برابرېږي ، ښځینه او نارینه به یکې په مساویانه توګه یو دبل رضایت تر لاسه کولی شي او . . .

که جناب ګیلاني صاحب په رښتیا هم دواقعي مشروع نظام غوښتونکې وي نو بیا خو همدا اوس خبره حل ده څکه دې ښاغلي خپله دمشروع په توري خوله چوله کوي او مشروع کلمه عربي ده چې اصلاً شرع او یا شریعت څخه اخیستل شوې او دعربي لغت له مخې هغه څه ته ویل کیږي چې قوانین یې له شرعي مذهب او دین سره برابر او هغه خو دنړۍ دمسلمانانو داعتراف له مخې همدا فعلي دهیواد حاکم نظام دی چې ټول نافذه قوانین یې بواځې او بواځې له شرعي دستوراتو څخه اخیستل شوي او بس .

او که ښاغلي ګیلاني صیب له دې عربي توري څخه دمفهوم په لحاظ کومه بله معنی ختلاټ کړې وي او دده جناب هغه مراد وي نو بیا خو پره خپله د ده صاحب پر غاړه ده چې هغه معنی ئې تر اوسه دعربي ژبې معاصرو قاموسونو ته نه ده شامله کړې تر څو نور خلک هم پرې وپوهیږي په هر صورت ، شرعي نظام په خپلې هغې اصلي لغوي او شرعي معنی سره هغه څه د ي چې د افغانستان ټول مجاهد ملت یې غوښتونکی دی او دهغه له امله یې ترشلو لکو نه زیاتې شرینې اروا ګانې دخدای په لاره کې نذارنه کړې دي او که هرڅوک اوس هم ددې شرعي نظام په مقابل کې خنډ واقع کیږي نو بیا هم د ا مسلمان ملت حاضر دی چې له هغوی سره د توري په سر حساب وکړي او کوم مصطلح مشروع نظام چې ښاغلي ګیلاني صیب او ده د جناب غربي پرېځي یې په راوستلو کې سرګردانه دي نو دافغانستان په فعلي شرایطو کې د همداسې مشروع نظام !!! راوستل خیالست و محالست و جنون .

امریکا دمکې دمشرکینو پر پله

ننګیالی نا آشنا

څه کم څوارلس سوه کاله پخوا چې کله په جزیرة العرب کې دحضرت محمد (ص) لخوا دحق آواز اوچت شو او دالله (ج) ددې امر پر بنا ، چې خپل ګران پیغمبر ته یې وکړ په جهر او ښکاره بیان کړه ای محمد (ص) هغه شی چې ته پرې مأمور شوي یې او دمشرکانو پر وا مه کوه ، او همدارنګه دا حکم راغلی :

نږدې خپلوان دې له خدایه (ج) وویره .

نو آنحضرت (ص) دصفا غونډۍ ته وختوت او قریشو ته یې دحق اعلان وکړ .

په همدغه ځای کې ابي لهب او نورو بدبختانو دتیږو په ویشتلو لاس پورې کړ چې ده ده مبارکې پښې له وینو ډکې شوې . دآنحضرت (ص) او دهغه دمخلصو پیروانو آزار او اذیت پیل شو او دمشرکینو چې څومره له لاسه کیدل دومره یې آزارورته ورساوه .

دحق دپیروانو په زوروټو او شکنجو یې هم زړه یخ نه شو بلکې خبره دېته ورسیده چې آنحضرت (ص) دخپلې کورنۍ سره کلابند کړي . دمکې مشرکینو دا پرېکړه وکړه چې هیڅوک به له بني هاشمو سره نه خپلوي کړي نه به څوک راکه ورکه لیدل ، کتل کوي او نه به ورته څوک دخوراک څښاک شیان وروړي ، تر څو پدې ډول بني هاشم مجبور شي چې حضرت محمد (ص) دوې ته دوژلو لپاره ژوندی وسپاري . دغه تړون منصور بن عکرمه ولیکه او دکعبې په دروازه یې وځړاوه او هماغه وه چې حضرت محمد (ص) له خپل تره ابو طالب او دکورنۍ له نورو غړو سره « دابو طالب په شعب » کې چې دغره یوه دره او دبني هاشمو موروه وه کلا بند کړل . په دغه اوږدې کلابندۍ کې حضرت محمد (ص) او دهغه کورنۍ دومره کړاوونه وګالل چې له ډېرې لوږې به یې دونو پاڼې خوړلې او ماشومانو به یې له لوږې ژړل . دغه کلابندۍ تر دري کلو اوږده شوه . تر څو یخپله په همدغو کافرانو کې دتړون ماتولو تحریک پیدا شو .

بیا هغه وخت آنحضرت (ص) او مخلصو پیروانو ته یې د الله (ج) لخوا دهجرت کولو امر وشو او مدینې منورې ته یې هجرت وکړ بیا هم دمکې مشرکینو په کراره پرې نښودل . قریشو عبدالله بن ابي ته چې له هجرت نه مخکې دانصارو رئیس و ویډې ډول یو لیک ولیږه : تاسې زمونږ دښمن « محمد (ص) » او محمدیانو ته پناه ورکړې په خدای (ج) قسم دې چې یا خو تاسې دغه سړی « محمدص » مړ نه کړې او یایې له مدینې ونه باسې موږ به ټول په تاسې حمله وکړو ، تاسې به تابود او ښځې به مو له ځان سره راولو .

خو الله (ج) دخپل استا زي او دهغه له مخلصو او مؤمنو پیروانو سره مرسته وکړه او بالاخره یې هغوی بریالي او سرلوړي کړل . په دغه کار کې دهغوی اخلاص صبر او استقامت او په خپلې دغې مقدسې مبارزې او مجاهدې باندې کامل ایمان او دالله په مرسته او اجر ټینګ باور دهغوی دبریالیتوب ضامن و .

پیروزی تیم تکواندوی کشوررادر مسابقات مانچستربه ملت قهرمان وجامعهٔ ورزشی افغانستان تبریک میگوییم

جهان ورزش

تحت نظر : استاد آرین خیبر

تکواندو کاران افغانی در بین ده مملکت اروپایی و آسیایی حایز مقام دوم گردیدند

تیم تکواندوی افغانستان مقیم بریتانیا تحت نظراستاد محمد یوسف دلدار نخستین رئیس فدارسیون تکواندوافغانستان درمسابقات British open TAEKWONDO Championship که بتاریخ ۱۴و۱۵ جون در مانچستر انگلستان دایرگردید حایز مقام دوم و برنده کپ قهرمانی مقام دوم اروپا گردید. استاد محمد عثمان دلدار به نماینده گی از تکواندوکاران افغانی مقیم انگلستان طی مصاحبه یی با رادیو بی بی سی اظهار داشتند. این مسابقات که بین کشورهای (کوریای جنوبی ، انگلستان ، هسپانیه ، یونان ،جرمنی، افغانستان ، ایتالیا ، چین ، فرانسه ، دنمارک ،سویدن ، ناروی دایر گردید تیم تکواندو افغانستان به اخذ هشت مدال طلا، شش مدال نقره و چهار مدال برونزحایز مقام دوم و برنده کپ قهرمانی مقام دوم گردید .

همچنان یك تن از تکواندو کاران افغانی بنام (محمود یعقوبی) باپیش ترین مسابقات ناك اوتی توانسته است لقب بهترین تکواندو کار (Best Fighter) مسابقات مذکور رابه کمال افتخارآفرین به ملت قهرمان افغانستان به ارمغان بیاورد . قابل یاد آوردی است که تیم ملی تکواندو افغانستان چندین باریست که درمسابقات قاره یی به موفقیت های چشم گیری درسطح اروپا نایل آمده است پیروزی قهرمانانه تکواندو کاران افغانی مقیم لندن مایه افتخار و سرافرازی برای جامعه تکواندو و ورزش کاران افغانستان است .طبق یك خبر دیگر تیم تکواندو افغانستان بعداز پیروزی در مسابقات British open TAEKWONDO championship عازم ایالات متحده امریکا گردید.

آرین خیبر

این ورزش ها دراین کشور ها ایجاد شده اند

۱- شطرنج -هندوستان
۲- کاراته -جاپان
۳-کشتی - یونان
٤- والیبال - امریکا
٥-فوتبال - انگلستان
٦- بزکشی - افغانستان
۷- گونگ فو - چین
۸- بوکس - یونان
۹- کرکت - انگلستان
۱۰- جودو- جاپان
۱۱-تینس- انگلستان
۱۲- تکواندو- کوریا
۱۳- شمشیر بازی - ایتالیا

بهترین های فوتبال درجهان

۱- رونالداز برازیل بهترین بازی کن جهان
۲- مایت سامراز آلمان بهترین بازی کن اروپا
۳- خداداو عزیزی از ایران بهترین بازی کن آسیا
٤- آنجلو پروتزی بهترین دروازه بان «گول کیپر» جهان از ایتالیا
٥- همچنان گابریل با تیستو تا از ارجنتاین ، یورگن کلینزمن ازآلمان ، پالولو ماندینی از ایتالیا، دیگو ماردونا از ارجنتاین ، استومك ماتامان از انگلستان ، علی دائی از ایران وچند بازی کن دیگر نیز در صف بهترین های فوتبال جهان قــــرار دارد.

ورزش د فشار دراټیټولو ښه طریقه

پوهان وایی دپنځه څلو پښتو دقیقو له پاره یوازی دورزش یو لړتمرینونو دخوبی حرکته او دمنځنی عمردرلودونکو چاغو کسانو دوینی فشار راټیټ کړاو دورزش ددوام له امله دفشار سطح هماغسی ټیټه وساتله شوه .

دغه څیړنه دوینی په لوړ فشار باندی دورزش کولو اغیزه چی دزړه دناروغی درامنځته کیدو سبب گرځی ورزش کولو یو ډیله دیادونی وړه اغیزه ښیی : یو متخصص داکتر په دی باب وایی : دغه گټو ره اغیزه له لومړی سلسلی تمرینونو څخه وروسته ولیدله شوه اونا روغانو ته یی دورزش کولو انگیزه ورکړه دوینی طبعی فشار یو سلو دیرش په پنځه اتیا او یـ له دی یو څه ټیټ دی .

کورنی سپورتی خبرونه

تکواندو ◀◀
گردیز - شریعت :

په گردیزکی دافغانستان دجیدوکوان تکواندو دټولنی نماینده گی پرانستل شو ه . خبر زیاتوی په دغه ټولنه کی ددوو کلپونو په گډون څه دپاسه شپیته تنه تکواندوکاران په ورزش بوخت دی چی ددوو تنو ترینرانو هر یو استاد شاه علم درویش او استاد عزت گل چستی ترلارښوونی لاندی دهیواد دجیدوکوان تکواندو دټولنی دعمومی مرکز لخوا اداره کیږی.

بریالی خیبر

پهلوانی ◀◀
کابل- شریعت :

مسابقات انتخاباتی پهلوانی دراستدیوم ورزشی کابل آغاز گردید ه دیروز خاتمه یافت این مطلب را محترم استاد عبدالرزاق بلال سرحکم فدراسیون پهلوانی کشور به خبرنگارما چنین اظهار داشتند :

مسابقات انتخاباتی پهلوانی که جهت انتخاب بهترین کشتی گیران برای تیم جوانان پهلوانی به اساس پلان وپروگرام مرتبه کمیته ملی المپیک و فدارسیون پهلوانی تحت سنین ۱۶/ ۱۷ سال تحت نظارت مستقیم هیات کمیته ملی المپیک و فدراسیون پهلوانی کشور به تاریخ ۱۴۲۲/۵/۳ آغازگردید دیروزبا نتایج قناعت بخش خاتمه یافت .

استاد بلال به ادامه سخنانش افزود دراین مسابقات که به اساس قوانین جدید فدراسیون بین المللی پهلوانی(Fila) به نورم های سال ۲۰۰۱ تدویر یافته از ۱۳ کلپ آزاد و موسسات رسمی پهلوانی جمعاً ۱٤۰ کشتی گیر شرکت کرده بودند . احمد الله «ارغندیوال»

بوکسنگ ◀◀
کابل -شریعت :

مسابقات انتخاباتی بوکسنگ به اساس پلان وپروگرام مرتبه کمیته ملی المپیک و فداراسیون بوکسنگ کشور جهت گزینش بهترین بوکسران برای تیم نوجوانان بوکس زیر سنین ۱۳الی ۱٦ سال تحت نظر مستقیم فدراسیون بوکس دیروز در استدیوم ورزشی کابل دایر گردید دراین مسابقات که به سیستم ناک اوت آغاز گردیده جمعاً ۲٤ کلپ ورزشی بوکس به سهمیه فی کلپ ٥ نفر اشتراک نموده اند عبدالمعروف رغبت.

آرزویم در ورزش،پوشیدن لباس تیم ملی است

ورزش وسیله تامین صحت وسلامتی فردوجامعه بوده که نیروی اجتماعی کشور بربنیاد ورزش استوار میگردد ورزش نسبت به وسایل دیگر تندرستی موثر ترثابت شده لذا آنراهدف نیز می پندارند رشد ورزش درکشور های پیشرفته جهان مرهون تکنالوژی پیشرفته بوده و جای تفریح و سرگرمی سالم را نیز احراز نموده است که لذا آن جمله نمایشات جمناستیکی واکروباتیک را میتوان نام برد که چشمان هر تماشاچی را خیره ساخته و زمینه تبارز قابلیتهاییرا که خداوند به انسان ارزانی داشته فراهم کرده است از اینروگفته میتوانیم که خوشبختی نتیجه ورزش و تندرسی است ، روی این ملحوظ صحبتی داریم با بوکسر جوان کشور محترم دیپلوم انجنیر احمد سیر «راحت» که مدت شش سال عمر خویش را در ورزش بوکس تحت نظر استاد هدایت الله کامه وال تریتر کلب همدرد سپری نموده است.

محترم راحت درمورد علاقه و انتخاب رشته ورزشی خویش چنین بیان داشت شش سال قبل از امروز نظر به علاقه شخصی و تشویق فامیلم به ورزش بوکس روآوردم که تاکنون بیش از هشت مسابقه رسمی وچندین مسابقه غیررسمی بین کلب های آزاد انجام داده ام که از جمله هشت مسابقه رسمی آن دومسابقه در تیم نوجوانان وچهار مسابقه درتیم جوانان ودومسابقه در تیم بزرگسالان در وزن ۵۷ کیلوگرام کرده ام که نتایج عالی بدست آورده ام .

محترم راحت درمورد آینده ورزش درکشور وآینده خوددر ورزش چنین بیان داشت ،پس از استقرار حاکمیت اسلامی در کشور چون فضای صلح و آرامش برقرار محسوس است و آن اینکه ورزشکاران مادراکثرمسابقات خارجی مقامهای بلندی را کمایی مینمایند اما درمورد خود باید خاطر نشان سازم که آرزویم اینست تا روزی در پهلوی آنانی قرار بگیرم که درورزش نام شان بر سرزبان هاست و آن اینکه لباس تیم ملی را به تن نمایم .

په پښتو شعرکی مذهبی څرکونه

۱۹

دثبات لیکنه او څیړنه

طبیعی ده چې د تقوی مقام ته دا لارې یوازی د ریاضت عبادت او طاعت له مزلونو څخه تیریږی .

په عبادت کې تظاهر او ریا کاری د خدای «ج» په نزد نه یوازی د قبلیدو وړ نه دی بلکی ډیر ناروا عملونه دی او داځکه چې عبادت چې دخدای«ج» لپاره وی او په سریت کې ترسره شی هغه زیات افضلیت لری لکه : روژه چې د دې افضلیت څخه برخور داره ده او یا د شپې عبادت چې پرته له خدای تعالی یې هیڅوک شاهدان نه وی .

خوشحال خان ختیک د ریا عبادت او د تظاهر مذهبی ظواهر په خپل لاندنی شعر کې ډیر غندلی دی لکه :

باید وویل شی چې د خوشحال ختیک داشعر د هغه د عقیدی او نظر یې پور ی مختص دی :

په خوله کلمه لولی ، لمونځ روژه کاندی کافر شته
دعوی کا وشیخیه ، تر شیطانه لابتر شته
منطق ، معانی لولی ، درس ،فتوی قاضی گری کا
اکثر په دا فرقو کی که یې گورې کونی خرشته
له کوره لوټه واخلی ، استنجا لره روان شی
تقوی ترهسی حده په اولجه یې وری که زرشته
د بل کره چې ورشی په خپل روی ، بندیان پرانزی
په ځان باندی چې راشی کله روی د پیغمبر شته
وبل هغه کا چې یې وبره وی یا طمعه
خوشحال په دا ار نه دی حق به وایی څو یې سرشته
(پورتنی اثر ، ۲۵۹ - ۲٦۰ مخ)

اوبیا هم د شفیع الا مت او سرور کاینات په حیث دحضرت محمد «ص» نبوی رسالت ، دلولاک مقا م دعطیی په وجه دموسی کلیم الله او عیسی روح الله نه دلوړی درجی درلودل ، دنورو امتونوپه جمله کی دنبی اکر م «ص» دزمانی د(شاهد) امت ممتاز توب په مذهبی ارشاد اتو کی د هغوی خاصوالی ، هغه یې ساری صفتونه دی چې یوازی او یوازی لوی څښتن دسیدالمرسلین دذات سره انتساب ورکړی دی او خوشحال ختیک په خپل شعرکی دحضرت محمد «ص» پورتنی صفتونه په ادبی ملغروکی داسی پیلی دی :

شفاعت دمحمد «ص» ثابت په نص دی
داپه دی چی د درست جهان اخص دی
دموسی ، عیسی کله داصفت و
دلولا ک نعمت په ده باندی مختص دی
اولیا یې دامت واړه ممتاز د ی
هرولی یې په ارشاد کی مرخص دی
سرحلقه داولیاوو هغه شماره
چی شیطان یې بندی کړی په قفص دی

او داهم دنورو صفتونو په هلکه دپورتنی شعرباقی پاتی بیتونه

درستم دمیړنتوب خبری هیڅ شوی
ذو الفقار چی یې یادشوی په قصص دی
دوستداران له اهل بیت داوره خلاص دی
یې دوستی یې دعالم کله مخلص دی
په ولاءکه دعلی رافضی کیږی
داخوشحال یې په ولاکی مشخص دی
(دخوشحال ختیک کلیات ۳۳۵مخ)

پاتی لري

درسول زی تعلیمی ټولنه کی ۲۵۰ تنه طالب العلمان...

فرهنگی ټولنی مسوول محترم داکتر شمس الرحمن زموږ له خبریال سره په یوه ځانگړی مرکه کی څرگنداو زیاته یې کړه چی همداوس په دی ټولنه کی دوه سوه پنځوس تنه طالب العلمان شامل او په زده کړه بوخت دی چی تدریسی چاری یې د پنځلسو تنو تکړه او مجربو ښو ونکو له خوا پرمخ بیول کیږی دوتنه یې داکتران ، پنځه تنه یې انجنیران ، دوه تنه یې مولوی صاحبان او شپږ تنه نور یې هم له بیلابیلو عصری تحصیلی موسسو څخه استاد په لاس کی لری . درسول زی تعلیمی ټولنی طالب العلمان زیا تره یتیمان ، معیوب او بیوزله هلکان دی .

دغه راز محترم رسول زی زیاته کړه چی په دی اداره کی لومړنی اومنځنی زده کړی دننگرهار ولایت دپوهنی ریاست له خواله ټاکل شوی تعلیمی نصاب سره سم پرمخ بیول کیږی . او پردی سربیره دساینسی علومو انگلیسی او عربی ژبو زده کړه هم په لوړه کچه جریان لری .

محترم داکتر رسول زی دیوی پوښتنی په ځواب کی وویل چی زموږ تعلیمی او فرهنگی ټولنه له خپلو زده کوونکو څخه دپوهنی وزارت دمقام له خوا دټاکل شوی لایحی مطابق حق الزحمه اخلی البته په دی برخه کی دیتیمانو او معیوبو شاگردانو لپاره په سلوکی څلوېښت او دبیوزلو ماشومانو لپاره په سلوکی دیرش کمښت په پام کی نیول شوی دی .

ده زیاته کړه چی موږ دخپل تعلیمی مرکز دشاگردانو دتعلیمی سطحی دلالوړتیا او ښه روزلوپه مقصد هره میاشت په زیات لگښت سره دسیالیو مقابلو او مسابقو غونډی رابولو او داخپل لومړنی مسئولیت گڼو .

محترم رسول زی په پای کی زیاته کړه چی زموږ هیله له ټولو هیوادوالو څخه داده چی هرڅوک باید کوښښ وکړی ترڅو خپل اولادونه دپوهنی له نعمت څخه برخمن کړی ځکه یوازی دپوهنی په ړا سطه کولای شو ددواړو دنیا وو نیکمرغی ترلاسه کړو علم داسی یوه لازو اله پانگه ده چی په هر ځای کی له انسان سره موجوده وی او هیڅوک یې له چاڅخه نه شی اخیستلای.

نامه وارده

مسؤلین شاروالی باید محتاطانه وسنجیده عمل نمایند

به اداره محترم روزنامه شریعت

السلام علیکم ورحمت الله وبرکاته !

طوریکه از طریق اخبار و رادیو میشنویم ومیخوانیم کاردرجهت بهبودوضع زندگی مردم ماجریان دارد که مایه افتخار هر هموطن مسلمان مامیباشد از جمله فیصله ها اطلاعیه ها وعملکرد های ریاست محترم شاروالی کابل وترافیک نیز در خور توجه است ایشان زیادترازپاك کاری ساحات شهر از وجودکراچی ها که گاهی باعث زخمی شدن کراچی داران میگردد نرخ های جدید قصابی ها ، محوهارن های دلخراش ، کارد رجهت تبدیلی اشترنگ چپ به راست موترهای جدید وارد ، اسکیج ساحات طبق ماسرپلان شهری ، قیریزی سرکها ، چمکاری گلدان ها وچارراهی ها ، فواره های آب ، چراغهاواشارات ترافیکی جاده و ده ها اقدام دیگر یاد میکنند .

آنچه توجه شود اینست که هراقدام بعداز فیصله عجالتاً با اطلاعیه ها نشر وفردابشدت عمل میشود . پس فردا کمتر وچندروز بعدکم رنگ میشود یا اسکیچ توسط افراد که کمتر به مهندسی مهارت دارند گاهی درداخل دریای کابل وگاهی در بیرون دریای کابل ، پارك شهرنو وسایر سمت های تطبیق میگردد .روز دیگرپس دریای کابل و تیمور شاهی شامل اسکیج فعالیت که چند روز قبل از بین رفته بود ، میگردد و کراچی داران وا پس در ساحه دیده می شوند بالاخره تمام فیصله ها اطلاعیه هاوعملکردهای چند روز قبل یکباره پاك میشود .

بهتر خواهد بود که مطابق فرمان عالیقدر امیرالمؤمنین که فرمودند (برای بهبود وضع اجتماعی و اقتصادی کشور سیمینار ها تدویر گردد و نظر علماء و دانشمندان محترم گرفته شود) وبعداً فیصله ها ، اطلاعیه ها و عملکرد های متین ، قابل تطبیق ودوامدار صورت گیرد و هم از انعده برادر انیکه به مقامات محترم صالحه نظر و پیشنهاد ارائه میدارند ، تقاضا میکنیم که بادید وسیع مفاد عامه مسلمانان ، تحلیل علمی از اوضاع همان محیط ، رفع دایمی معضلات و سایرموارد عمومی و خصوصیت مربوط را در نظر گرفته و مقامات را نظر شرعی و علمی بدهد مثلاً اگر یادی از خانه ها میکنیم باید در مورد پروژه های جدید خانه ها و نمرات زمین در قدم اول به مامورین نهایت غریب فکر کنیم و یا ساحه لین های شهری و تعین ایستگاه اخیر درمنطقه وسطی شهر ، تعین مارکیت های جدید جلوگیری از تورید موتر های اشترنگ چپ ،استفاده معقول از پارکها تعین مصروفیت به مامورین بعد از وقت رسمی و سایر مطالب اگر نظریات و پیشنهادات سازنده ای از طرف علمای محترم و اهل خبره به مقامات محترم صالحه ارائه شود بهتر خواهد بود تا همه از آن بهره عادلانه ببرند .

وارث احمد از کلوله پشته

دبندیزونو له کبله ...

قدرالدین هاشمی دباختر داطلاعاتی آژانس له خبریال سره دمرکی په ترځ کی څرگندکړاو زیاته یی کړه .

دهوخست ددرمل جوړولو کمپنی او س په افغانستان کی ددرملود بازار په سلوکی دوه اړتیا وی نه شی پوره کولای داپه داسی حال کی دی چی د بندیزونو له لگیدومخکی هوخست په نړیوال ستندرد سره یو سلو شپږ ویشت قلمه ډول ډول درمل تولیدول او بوازنی دلیل چی په دی شرکت کی ددرملو دتولید دکمښت سبب شوی دی بوازی په او مو موادو باندی دنه لاس بری امکانات دی .

دیادونی وړده چی پخوا ددی شرکت داصلی اومومواد و زیاته اندازه واردات دآریانا افغان هوایی شرکت دالوتکو دبهرنیو الوتنو په واسطه تامینیدل خو له دوو کلونو را پدیخوا دغه شرکت داومومواد و د نه ترلاسه کیدو په علت ددرملو دتولیدولو په مقصد له خپلو ذخیروی موادو څخه کاراخلی او دفابریکی زیرمه شوی مواد تر نورو دریو میاشتو پوری د دغه شرکت اوسینوتولیداتو ته چی شپږویشت قلمه درمل احتواکوی ځواب ووایی.

محترم هاشمی زیاته کړه دبند یزونو دوام ددی سبب شوچی هوخست په سلوکی لس خپل مسلکی کارکوونکی له لاسه ورکړی او که چیری بندیزونه دوام ومومی په یقینی توگه ویلای شم چی هوخست خپله ۲۹ کلنه پانگه چی همدغه مسلکی کارکوونکی دی په اسانی سره له لاسه ورکوی هغه وخت به ددغه شرکت دسقوط مسوولیت چی توله پانگه یی نهه ملیونه المانی مارکه کیږی دهغوکسانو په غاړه وی چی په افغانستان باندی یی دغه حالت تپلی دی ده څرگنده کړه بندیزونه په افغانستان کی دقضیو د حل لاره نه ده بلکه باید دملگروملتودسازمان امنیت شورا له تولو مخکی دافغانستان په بی وزلواو ربړیدلو خلکو باندی ددغو بندیزونو جانبی زیانو ته چی روغتیا یی ستونزی او دبشر خدمتونو سلب کوی په پام کی ونیسی داپه داسی حال کی دی چی د سلما د بندجوړولو داوسپنی پتلی دجوړولو اودبریښنا رسولو دسترو پروژودجوړولو په شان دهیواد دستر تولیدی اوصنعتی پروژو جوړول او دغه راز په هیواد کی نورمخابراتی اوروغتیایی خدمتونو ډونور یی تولگټی پروژی او بهرنی پانگی اچونی دملگروملتود سازمان دامنیت شورا دظالمانه اوناروا بندیزونو ترتاوږ واغیزو لاندی راغلی دی او دافغانستان زیاتره خلک چی د وچکالی داغیزو له امله زیانمنی له زیاتو بشری مشکلاتو سره مخامخ شوی دی .

بررسي كارها ادارات ...

میدان وردك ، غزنی ، زابل ، کندهار ، ارزگان ، هلمند وولایت هرات سفری نموده و دراین ولایات جمعاً ۹۳ اداره تصدی ها امارتی ، موسسات مختلط ،تشبثات خصوصی ، نماینده گی سازمانهای بین المللی ، انجوها ی داخلی وخارجی رامورد بررسی و مراقبت های اداری قرار داد که درجریان کار درولایت فوق الذکر برعلاوه دریافت خلاها و کاستی های لازم ادارات را درپرتوقانون ومقررات موضوعه عندالزوم مشوره های حقوقی ، کاری و سودمند داده ودرفرجام پروتوکول رفع خلاها وکاستی ها را باموول اداره عقد واز نتایج کارو فعالیت خویش در هرزون وولایت روسای تنظمیه و والیان را طی ارائه گزارش مطلع نمودنده

همچنان ریاست عمومی کاروامور اجتماعی در ربع اول سال جاری تعدادی از ادارات ، وزارت خانهاو واحدهای دومی آنها را توسط گروپهای مراقبین کار بررسی نموده که نتایج خوبی را در مرکزبوجودآورده است همچنان درنظر دارد تا تعدادی از ادارات امارتی، تصدی های امارتی ، موسسات مختلط ، تشبثات خصوصی ، انجوهای داخلی وخارجی به شمول نماینده گی های سازمان ملل نیزمورد بررسی قرار دهد .

په ننگرهار کي ...

آژانس خبریال ته وویل.

دننگرهار ولایت دهسکی مینی ولسوالی یوتن اصلی اوسیدونکی چی اوس په تورخم کی اوسیږی پخوا ددغه ولایت لومړی لمبر قول اردو دری دېرش جریبه ځمکه ملکیت ترلاسه کړی او دځوتیرو کلونو په اوږدوکی یی له هغی څخه په غیر قانونی توگه گټه اخستی ده چی دتحقیقاتو په نتیجه کی یی ثابته شوه چی دغه ځمکه امارتی ملکیت دی او ده په غیر قانونی توگه خپله وربانډی اچولی او شخصی گټه ورڅخه اخیسته.

دلومړی لمبر قول اردو محترم مرستیال زیاته کړه . دغه سړی چی غوښتل یی ددغی ځمکی ددایمی لاس ته راوړلو په مقصد خپلو جعلی سندونوته قانونی بڼه ورکړی دروپشت زره کلداری دبوی په توگه ورکولی څرنگه چی دتحقیقاتو په بهیر کی د موضوع څرنگوالی موږته ثابت او دغه سړی غاصب تثبیت شوی ؤ دنظامی محکمی هیات په وړاندی دغه سړی و نیول شو او د قانون منگولوته موسپاره، موضوع دزیاتی څیړنی په مقصد نظامی څارنوالی ته راجع شوه.

داړوند وستونزو ...

پرمختیا پروږژو ددېرژر تطبیق په باب خبری اتری وشوی او دکرنی او مالداری وزیر محترم مولوی احمدالله مطیع دهغو پروژو په اړوند چی خاوری پېژندنی لابراتوار او دتحقیقاتی فارمونو دبوټو دساتنی دلابراتوار دمالداری دشاتو دمچیود روزنی دوربښمودچینجیو دروزنی او دمالداری دپروژ واو دځنگلونو او څرڅایونو دساتنی پروژی بیا جوړول پکی شامل دی معلومات ورکړل او دهغود بیا جوړولو په برخه کی یی دواکنو مقاماتو دهمکاری غوښتنه وکړه.

وروسته دریاست الوزرأ محترم اقتصادی مرستیال دکرنیزو پروژو دبیا جوړولو په اړتیا باندی ټینگار وکړ ددغو پروژو دبیا فعالولو په برخه کی یی دهمکاری ژمنه وکړه .

په سمنگانو کي ...

دسمنگانو ولایت نولسمی فرقی مجاهدینودوښمن بوه ډله وسله وال افراد چی د افغانستان د اسلامی امارت له سوله ییز سیاست څخه په استفادی سره یی غوښتل دسمنگانو ولایت دخرم او ساریاغ ولسوالی په مربوطاتو کی دخلکو سوله ییز او آرام ژوند گډوډ کړی دچکو عملیاتو په بهیر کی وځپل چی په نتیجه کی یی ددغی ډلی شپږ ژیښت تنه وسله وال افراد ووژل شول او څلور تنه نور یی ددغی فرقی دمجاهدینو له خوا ونیول شول .

خبر زیاتوی چی ددغو افرادو یو سر گروپ سخت ټپی شوی دی او د یوی اندازی درندی او سپکو وسلو په گډون داوو تنو اخلالگرانو مړی دجگړی په ډگر کی پاتی دی .

دسمنگانو ولایت دنولسمی فرقی قوماندان محترم ملا مجاهد حقانی وویل ددغی فرقی مجاهدین په حالاتو باندی په بشپړه توگه واکمن دی او د لوړ جنگی مورال په لرلو سره تل دشر اچوونکو ددسیسو او تحرکاتو شنډولو ته تیار دی .

پنځوس کوهبان ...

مقصد دبغلان ولایت کلیو او دبیا جوړولو او پراختیا ریاست تر نظر لاندی او د یونیسف اداری په مالی تخنیکی همکاری سره کیندل کیږی او په پام کی دی چی په راتلونکی پنځلسو ورځو کی پنځوس نیمه ژوری څاگانی وکیندل شی او دڅښاك د روغتیا یی اوبو دکمښت له پلوه ددغه کمپ داوسیدونکو ستونزی او مشکلات لری شی .

۱۲۶۳۷ تن مریض ...

ملا اختر محمد اخند رئیس هلال احمر زون شمالغرب به خبرنگار ما گفته افزود هلال احمر زون شمالغرب طی سه ماه گذشته ۱۲۶۳۷ تن مریضان راکه شامل زنان ،کودکان ومردان میباشند ازطریق کلینیك های هلال احمر تداوی و ادویه لازم برای شان طوررایگان توزیع نموده است.

از طریق تیم های سیار صحی این ریاست به تعداد ٤۲۹۵ نفر مریض درولایت فیروز تداوی وهنچنان برای ۹۲۰ نفر تعلیمات و تبلیغات صحی داده شده است . ریاست هلال احمر افغانی درزون شمالغرب طی ربع اول سال ۱٤۲۲ موفق گردیده است که به تعداد شش کورس کمك های اولیه صحی را دایرنموده وبا امکانات مواد اولیه تجهیز وبه جامعه تقدیم نماید .

فریادی

دمیدان وردگ ...

وردگو ولایت دشهیدانو او مهاجرینو دچارو ریاست له خوا په دغه و لایت کی تر سره شوه د الرشید ترست موسسی لخوا په څلور سوه څلور نوی مستحقو کورنیو باندی ددوړی څلورسوه څلور نوی کارتونه وویشل شول او دوی په میدان ښار کی ددوو نانوایی گانو له لاری وچه ډوډی تر لاسه کوی.

خبریه موسسو ته د ...

آژانس خبریال خبرراکړ دسرپل ولایت مرستیال ملانصرالدین پرون په مزار شریف کی دجاپان دتیاس ددفتر له مسوول شاغلی کیانساواو دملگروملتودکمیشنری ددفتر له دووتنو مسوولینو سره دکتنی په ترځ کی د دمهاجرینو په کمپ کی د اوسیدونکو مشکلات طرحه او دولایت او دنړیوالو خیریه موسسو او سازمانونو دمرستو غوښتنه یی وکړه .

دسرپل ولایت مرستیال ددغه ولایت له زیانمن شویو خلکو سره ددغو موسسو دسروی او مرستی د پروگرام دتطبیق لپاره هم له هغوی سره دهمکاری ژمنه وکړه او هیله یی وکړه چی له مهاجرینو او بیځایه شویو سره عملی مرستی وشی .

دشعراوادب ...

په تالارکی دمشاعری او ادبی کره کتنی غونده جوړه کړی له محترمو شاعرانو اولیکوالو څخه هیله کیږی چی دپاکلی ورځی له غرمی وروسته په دوو بجو په دغه غونده کی گډون وکړی .

از چهار گوشه جهان

دقیق ترین ساعت اتمی ساخته شد

دقیق ترین ساعت اتمی ازطرف دانشمندان امریکایی ساخته شد دانشمندان بااستفاده از تخنیك های پیشرفته موفق شده اند دقیق ترین ساعت اتمی جهان را بسازند که ازساعت های اتمی ستندرد کنونی زمانرا دقیقتر اندازه گیری میکند .

نشریه تایمز امریکا به نقل قول ازیك فزیك دان امریکایی نوشت دانشمندان امریکایی برای اولین بار نشان داد ، اند که نسل بعدی ساعت های اتمی باپو تانسیل صدبار تاهزار باردقیقتر از ساعت های کنونی متداول کنونی عمل میکند.

دارنی

ترك سگرت در ۹۰ ثانیه

امروز همه مردم که معتاد سگرت هستند میداند که سگرت برای صحت آنها یك خطر بزرگ میباشد . چرا که سگرت تقریباً عامل ۲۰۰۰ نوع مرض میباشد . اما چون ترك آن نهایت مشکل و حتی برای بعضی ها نا ممکن است تا چار باز هم به این عمل دوام میدهند .

خوشبختانه کمپنی های ادویه سازی دراین تازه گی ها ادویه یی را ساخته اند که به کمك آن میتوان سگرت را برای همیشه ترك کرد . این ادویه که بشکل شربت میباشد بنام QUIT نامیده می شود تاثیر آن بالای اورگانیزم انسان طوری است که پس از گذشتن ۹۰ ثانیه از نوشیدن یك قاشق آن Central Nervus system یا سیستم عصب مرکزی وسلیا (مویکها) های که کانال های سیستم تنفسی را پوشانیده درمقابل دود سگرت شدیداً تحریك شده ودرمقابل آن از خود عکس العمل و حساسیت قوی نشان میدهند . که این عکس العمل آنها الی ۱۲ ساعت دوام مینماید که در این مدت شخصی عملی سگرت را مجبور میسازد که از کشیدن سگرت اجتناب ورزد . به این ترتیب شخص بعد از دو هفته برای همیش قادربه کشیدن سگرت نخواهد بود (ارسلان)

امریکا خلاف خواست جهانیان عمل میکند

منابع خبری بین المللی - شریعت : باوجودمخالفت های شدید مردم جزیره پورتو ریکو دولت امریکا به ادامه تمرینات نظامی خود درآن جزیره تاکید نموده است .

رئیس جمهورامریکا گفته که امریکا تادوسال دیگربه تمرینات نظامی خویش دراین جزیره ادامه میدهد اما مردم این جزیره خواهان اخراج هرچه عاجلتر نظامیان امریکایی از سرزمین خود شد ه اند .

روسیه و امریکا دراختلاف شدید قرار دارند

منابع خبری بین المللی - شریعت وزیر دفاع روسیه اعلان کرد که حاضر نیست موافقه اصلاح مواد مندرجه پیمان منع راکت های بالستیك را با امریکا امضا نخواد کرد.

درعین حال مامورین امریکایی گفتند که روسیه به منظور نشان دادن عکس العمل دربرابر سیستم دفاع راکتی امریکا راکت دوربردی را که سرعت آن مافوق سرعت صوت است آزمایش کرده است .

اوضاع در روسیه ...

گزارش حاکیست که رباینده گان از دولت روسیه خواسته تا انعده از اتباع چچین را که به جرم طیاره ربایی دستگیر نموده اند هر چه زود تر ازاد سازند گفته میشود که از جمله مسافران گروگان گرفته شده دو کودك و دو زن را رها کرده اند.

عساکر صهیونستي ...

نابلوس و بیت المقدس تشدید بیشتر بخشیده تا در برابر حملات احتمالی مبارزین مسلمان فلسطین اماده باشند .

از طرف دیگر طی ۲٤ ساعت گذشته مناطق مختلف فلسطینی مورد حملات وحشیانه هوایی و زمینی قوای اشغالگر قرار گرفته است .

طی این حملات وحشیانه عمدتاً مرکز شهر غزه و شهر سرحدی رفاه هدف قرار گرفته است .

در این مورد کوفی انان نیز بخاطر حملات وحشیانه صهیونستان ابراز تأسف نموده واز جانبین خواست که تا برای از سرگیری مذاکرات سعی وتلاش نمایند .

عراق طیاره جاسوسي ...

امریکا یک راکت عراقی را که به طرف طیاره پرتاب شد مشاهده نموده واین راکت به طیاره اصابت نکرده .

SHARIAT DAILY
Published by :
Islamic Emirate of Afghanistan
Chief Editor:
Alhaj Mulla Assadullah ,Hanifee,
Editor: Ghulam M. Farooq

توجه !

ایمان شما اجازه نخواهد داد که اوراق حامل چنین کلمات مقدس را به بی حرمتی بگذارید .